عبدالخالق رشید

۲۰۲۳/۰۷/۲۴

الله گل دانه دانه ، دانه دانه
شوروي قارکده نمیره خانه
الله گل دانه دانه

*
*
**
***
****
********
*************

# د مرسلي پرسر ستوري

## (ناول)

## لومړۍ برخه

۱۹۸۰ ـ ۱۹۸۶ کلونه

لیکوال

ع .رشید


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاز والي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

# الله اکـــــــبر

## ډالــــــــــــی:

زما د ارواښاد پلار (څارنوال غلام سخي رشید)  روح ته،
چې د ده له برکته مې د مرسلې لویې وپیژندله!

رشید

(۱)

**لــــــو ګــــــډ شو ...**

دترخه ژمي ترخې ورځې وې،سږ هم زموږ خلکود پسرلي راتګ ته دهیلو اوامیدونوسترګې نه وې نیولې، سږ دغاتولو دجشنونوهرکلی موږ دزلمو په وینو سره وکړ، ځکه نوهرې خواته دغاتولوترجنډوهم دزلمو شهیدانو دقبرونو جنډواوچتې وې.نوروختونه به موږ په پسرلوکې دتورواو سپینوزانودکتارونوپه راتګ سره دخپل ملک دکال دنیکمرغۍ او... زیري اوریدل،دواورو اوبارانونو ،وچکالیواواوسالیوتعبیرونه به موږ په همدغه وخت کې چې زانې به راپورته شوې کول .

خوسږ ټول له هرڅه لاس په سرشوي ول، سږ موګرد سوچ موچ په دې کې وچې ښنګه ژوندي پاتې شو، ښنګه به د ژوند له دښمنه ځانونه دامن غیرې ته رسوو، ښنګه به اوښکې اوښکې ژاړواو ښنګه به د وینو باغ ته د نامراد هوس او نامرادوهیلود جنازو له کاروان سره بدرګه کیږو ؟

سږ پسرلیو موږته کوم سلامونه اوپیغامونه نه درلودل،هو،سلامونه ...چا به راوړي وای ؟ غرونو که سیندونو، ونو که شنلیو؟ وریځو که بارانونو؟هیچا، په دې خاطر چې سږ هرڅوک اوهرشی اوټول وطن په خپلوغموکې ډوب وو... یوازې اناګانې وې چې په لړزیدلوآوازوکی به یې ماشومانوته ترژبولاندې ترغوږو ورتیروله چې :

خدایږو لالیه بي ننګی ته دساتینه ...

دغرونو سرونه په ژمنیو واورو پټ وو،په پسرلي کې هم هلته لاهم هغه ژمنۍ سړه سیلۍ لګیده،سیندونه هم له مستۍ لویدلی وو،ځکه چې دغرونو پرسروتوروسیلیو له لمراود هغه له پسرلینو تودو تودو وړانګو سره ترخې اووحشیانه مقابلې درلودې ...ونې هم لکه په لابراتوارونوکې اسکلیتونه په ګرد وطن کې بې سیکه ولاړې وې،شنلې اوچمنونه ګرد په دوړو پټ وو اود باران اوبوته یې په ګردو پټې ژبې وچې کلکې نیولې وې ...بارانونه هم کم وواو وریځې داسې قهرجنې او کرکجنې شوې وې چې پراوړو باندې یې یوازې تندرونو خولې لګولې شواې اوبس ...

سږ تندرونه لیونی شوی وو، په غرهاراو دربهارکې یې هغه مستې او دبدبه نه وه پاتې،هغسې لکه چې دپخوا په شان به چې موږترې ویریدواوپه هرځل دربا اوکړسابه یې زموږزړونه ترتلو تیرول.سږموږ بدو ورځو پسې اخیستې وواودهغه دربا او تنا هم نه شوای ډرولای.ځکه چې اوس زموږ ژوند ګرد سره یوتندرواوموږ هم یو پرسره توپان اوښتی ملت !

هسې چې ګرد ژمي درنې واورې راباندې و اوریدې،همداسې ګرد اوړی هم اورونه اوتوپونه را باندې و اوریدل، ګرد اوړی موملاوې کړوپې وې اوګرد اوړی مو په سنګرجوړولو سره تیرشو ...ټول اوړی مو سترګې د شوبلو د ځنځیرونوپرپټوباندې نښتې یوې اوبلې خواته تلې اوراتلې اوهمدغه چینونه اوپټې وې چې زموږ په ارادوراختل،زموږزړونه یې ماتول اوزموږ دکلیو یوپربل پسې نښتې کورونه یې له زمکې سره دم په دم یو کول .

زموږ کلیوالوهم سږان په لوونواو درمندو کې دخپلې خوارې خوارۍ سندرې پورته نه کړې اونه یې لکه د پخوا په شان په مزو مزو سره وویل داځکه چې دا خووم کال و چې دوی دماتم او غمیزې میلمانه شوې وواو دچا خبره داسې عزت دارې کوله چې د یوې شپې لپاره یې هم یوازې بې درده نه پریښودو .زما ښه په یاد دي، چې په نورو وختو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

کي به زمور بزګرو کليوالو په لوونو کي اشرونه کول او په ډله ييزه توګه به يي اوچتي اومستي سندرۍ ويلي، نجونو به وړي ټولول اود لو شويو غنموله سره به يي خپلي زمزمي په مينه مينه داسي پورته کولي :
لوګډ شو، ګډ شو د غنمو لو ګډ شو
چي غنم لوشو ياره تا به راولمه
او لو ګډ شو .... ګډ شو د ...
خو سږ داسندرۍ نه وي او نه يي چا زمزمي هم له لرې لرې اوريدي، اوس دغنمو اولونګو دواړو لوونه دخلکو له ياده وتلي وو، يوسورماتم پرملک را او ښتی و،له ورانوکليو به په ژمنيواوړدو شپوکي دخلکو کاروانونه او بهيرونه وتل، روان به وو،خو منزل اومقصد يي هيچا نه شو په ګوته کولای...اوکورونه به په وينولړلو جسدونو ډک تر شا ترې پاتي کيدل،دګرد ملک پرهسکواوټيټوباندې د شوبلو او ټانکونو پولادي ځنځيرونه غوړيدلي وو،هو چينونه اوځنځيرونه اوهغه هم درانه درانه ...
کاروانونه او بهيرونه روان ول ... زمانه ستړې ښکاريده، د زماني د زابلي رستم اراده سرو وحشي پوځونو ماته کړې وه، انسان خوارشوی او زبون شوی و،په ګرد وطن کي د مات زړه بهير برلاسی و،کورونو ژړل ، غرونو ژړل او زمور د نيکونواو پلرونو له هديرو دمرګونو ژړاوو غړونه اوريدل کيدل ...زمور د کليوالوآرامي شپي په درنو او ډارونکو شيبو باندې اوښتي وي ...
او سږ زمورزخمي زړونو دغنمودلوونو دفصلو سندرۍ له نا چارۍ په سره ژمي، سره پسرلي اوسره اوړي کي پټي پټي چي غړونه موڅوک وانه وري له اوښکواووينوسره يوځای ورو ورو پورته کړې ...
لوګډ شو ، ګډ شو ، د غنمو لو ګډ شو ...
چي غنم لوشو ياره ...

(٢)

## روســـــان په انسانيت نـــــه پوهـــيږي ...

دالومړی ځل وچي کرچکوف، له يوه داسي افغان سره په پوځي عملياتو کي ملګری شوی وچي هغه په روسي ژبه پوهيده، تردغه وخته دکرچکوف له راتګه په يوه حساب شپږ مياشتي تيرې وي او په بل اووه مياشتي،ځکه يوه مياشت خو دوی يوازې دکابل پرشاوخوا اوخپله د کابل په ښايسته ښارکي په اوږدو ګزمواو پيروتيره کړې وه ....تردغي ورځي پورې د دوی د پوځيانو تلوسه دې ته وه چي نن به دخونړی امريکا اوچيناني پوځونو سره چي افغانستان يي له خطرسره مخامخ کړی مخامخ کيږي او يا سبا ... کوم چي يوهم نه و،دوي په دې اووه مياشتو کي نه امريکايي ټانک وليد اونه هم امريکايي الوتکه، ځکه دايوه هسي يوه روسي تبليغاتي خبره وه چي دوی ته شپه اوورځ ويل کيده:موږبايدهره ورځ له امريکايانوسره جګړې ته تياروو... تيار ...
کرچکوف ښکلی زلمي و، له څيرې يي نه ښکاريده چي دا به يو ساده روسي سرتيری وي ، په دغو شپووڅو کي شوروی اودولتي سرتيري د پوځي عملياتو لپاره سره ګډ شوي وو،نادرجان هم له دوی سره په يوه خوا کي د دندې لپاره ګمارل شوی و ...دهغه روسي ژبه ډيره ښه زده وه،ځکه چي هغه پوره شپږکاله په روسيه کي تاريخ لوستی و،خو اوس چي سم کابل ته رارسيدلی و،هغه يي دخلقی تو ب له امله کارته نه و پريښی او نيغ يي له راتګ سره سم عسکري ته استولی و .
کرچکوف اودهغه ملګري له نادرجان سره په لومړی کتنه کي په دې سره پوه شول چي د هغه روسي ژبه زده ده،اوديوه بل په خبره سره پوهيږي، دا د دوی لپاره هم ترهرڅه په زړه پورې وه ، ځکه دوی پردې پوهيدل چي له ده سره به دوی لکه نا بلده غل پرکاله داني نه ورننوزي .
په روسي سرتيروکي يوازې کرچکوف بل شان سرتيری و، ده به تل هڅه کوله چي په هرڅای اوهره خبره کي ځان دخبرو په رمزاو رښتيا باندې پوه کړې اونن سبايي زياته هڅه دغه ته کوله څو پردې باندې پوه شي چي دوی دلته څه کوي ؟ له چا سره ؟ دچا په خاطر ؟ ...خودوی ته چي څه ويل شوي ول،هغه اوس په افغانستان کي نه ليدل کيدل ، ځکه نو داسي ښکاريده چي د دوی نامعلوم سفرهم دنامعلوم منزل پرلوري دی... او دوی لاهم پردغه ټکي سم نه پوهيدل چي دلته پرکومه اوا روان دي ...
په هغه ورځ چي کله د دوی پوځيانو دجګړې پرلور په لومړي ځل حرکت وکړاو دوی هم ځانونه پردرنو شوبلي باندې کلک نيولی روان وو،کرچکوف په چينګه خوله له نادرجانه پوښتنه وکړه :
- چيری روان يو،داشوبلي موږ چيرته وړي ؟ ته خو ددې وطن يې،بلد يې ، خبربه هم وې،چي موږ له چا سره د جنګ ميدان ته روان يو ؟
نادرجان دکرچکوف دا خبره په پيل کي دومره جدي اومهمه نه انګيرله ځکه يي وارد واره ځواب ورکړ :
- ته نه پوهيږې چي موږ چيرې روان يو اوکه له ما خبرې اخلې ؟ جګړې ته ، ويل کيږي چي ستاسو غونډ بايد په غزني کی ځای پرځای شي... وايي چي هلته بسمچي خورا زيات شوي ...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

ـ بسمچي؟ دوی امریکایان دي ،که چینایان اوکه پاکستانیان ؟
نادرجان سره له دې چي له سيني توند زلمی و، خود روسي سرتيرو پردغي ناخبرې اوساده ګی هم ښه پوهيده،ځکه يي په يو څه تونده او تروه څيره ورته وويل :
-بابا ته تراوسه بسمچي نه پيژنې ... دا زموږ خپل خلک،چي له تاسو او کارمل سره يي جګړه پيل کړې...د بخارا او سمرقند اومرکزي آسيا خلکو چي کلونه کلونه له شورويانو سره ډغرې ووهلي،هغوی له کومه راغلی وو، له امريکا، له چين اوکه له پاکستانه ...
ـ داچي موږ ته ويل کيږي چي پر افغانستان امريکا يرغل کړی،هغوی چيري دي ؟
ـ دڅه شي امريکايان؟امريکايان خو تردغه دمه په امريکا کي خپل خوبونه کوي، تاسي تراوسه هم فکرکوئ چي هغوی افغانستان نيولی دی ؟
ـ هو، موږ ته خو تراوسه هم دا ويل کيږي چي امريکايان دلته راغلي اوداملک يي نيولی دی ...
ـ ځومره ساده خلک ياست،هرڅوک چي هرڅه درته ووايي هغه په پټو سترګو منئ،خو موږ افغانان دا ځانګړتيا نه لرو،دهرڅا په خبرو تيروځو هم نه،زموږ سرتيري هم لکه تاسي غونډې په سترګوتړلي چرګان نه دي،، وبه يي وينئ ، او وبه يي پيژنی ! امريکايان خو تراوسه نه دي راغلی، اوس خودم ګوری ستا اوزموږ خبره ده،دهغو وار زيات فکرکيږي چي له تاسو به وروسته وي ...
د نادرجانه دغي خبرې لکه چي کرچکوف دفکر تياروته يوڅه درنايئ ځرک وروړساوه ، خو لاهم په دوه لارې کي و، ډيری آزادي پوښتني يي دشوبلي پرسرڅکه نه شوی کولای ، چي داړول پوښتني اوګرويږنې دقومانداناواويوشميرنورولپاره په زړه پورې نه وي،په دغه ډله روسانو کي يوازې کرچکوف داسي ښکاريده چي په زړه کي څه نه لري،اوياداچي د دندې له مخي يي ځان همداسي عيارکړی و،خو داسي ښکاريده چي دده زړه هم په درواغوسره شين شوی و ... له بلي خوا نادرجان هم پرده دومره زيات باورنه شو کولای ، ځکه هغه بيا له ده ډاريده اوداي هره شيبه ترسترګو سترګو کيده چي دی يي دکومي سرې بلا په خوله کي ور نه کړي... همداوجه وه چي يو پربل باندې دومره زر ترزړه باوری کيدل هم څه آسانه کارنه و،خولاتراوسه په باطن کي يوه اوبل ته سره غله وو ...
د دوی پوځي کتارپه هغه ورځ دغزني پرلورروان و،کرچکوف د پغمان د درې ښکلا او د چونغردلړيو ښامارانو ته په حيرانتيا سره کتل او ترلمرين شينکی آسمان لاندې دغو زړه وړونکو انځورونو،دغوهسکواوټيټو درواودغوړنګوبنګو له خټو جوړو شويو مستطيل ، مربع ډوله کورونو،د پراخو دښتو په پراخو لمنو کي دکوچيانو کيږديو هره شيبه د اکراين دکيف طبعی ښکلا، ښکلي مانۍ، سمسوربڼونه، داورګاډي ښاماري تاوراتاو پټلی،دخپلو خلکوآرامۍ ،خنداوې په پرتليزه توګه وريادولی ...
کله يي چي د بی سرووپايه دښتو پرپراخو سينو باندې دکوچيانو ميني وليدې نوبي واردواره پرنادرجان غږ وکړ :
ـ داخلک په ژمي کي خامخا ښارونو ته ځي ،او هلته به په بنګلواو کورونو کي اوسيږي ؟
-نه ، نه ، دهغوی ژمی او اوړی په همدغو کيږديوکي تيريږي ، په همدغو تورو کيږديو کي پيد اکيږي، په همدغو توروکيږديو لويږي او په همدغو تورو کيږديو کي له ژوند سره وروستی خدای پاماني هم کوي ... دوی له ښاري ژوند سره عادت نه دي اونه يي خوښوي،د دوی ميرمني چي يوه بلي ته ښيراوي کوي نورورته وايي:« خدای دي د تورکوټو بندی کړه » ...
هغه ته د ويرژلوخو ميرنيو کوچيانوژوند دحيرانيتا وړو،هغه پردې باندې نه پوهيده چي هغوی مالونه او څاروي ساتي اوهغه د دوی دژوند داوږده بهير بيری د مرګ تر پولي پورې بدرګه اولارښونه کوي .
کرچکوف فکر کاوه چي کواکي دوی هم د دده دملک خلک په فابريکو کي کارکوي ،او کار به يي د ژوند زيرمه جوړوي، خو چي نادرجان داخبره ورته وکړه،چي هغو نه فابريکي پيژني، نه ماشين اونه هم کارګر،دوی تراوسه په ډيرساده کارياني دخپلي ژبي په ليک او لوست نه پوهيږي،هغو قلم او کاغذ پيژني خو کارولی يي نه شي،هغوی پرخدای کلک ايمان لري خو په دي لږ پوهيږي چي دخدای لاره اودهغه دخوښئ ترلاسه کولو لپاره ترعقيدې زيات څه ترسره کړي .يوازې ساده لمونځ او پربسم الرحمان الرحيم دعقيدې کلک مسلمانان دي ، دکلکي ارادې اومينه ناک زړه خاوندان دي، په پښتو خبرې کوي، پښتانه دي، شميريي ترمليونو اوړي.دهغو پښتنوزامن دي چي دکالنجرپراوسپينزو کلاوواود سومنات پرلوړو په باندې برلاسی ول،هغوی چي بيا د لوی مغل په زمانه کي پر دوی باندې باورکول ګناه وه او له هم هغي ورځي را په ديخوا د دوی ژوند د ليلي او مجنون د افساني پرسيمو باندې تيريږي اودهغوی په ياد تراوسه پورې تورنمرې د دوی په تنو کي توره ځلا کوي ...
**...هنوزمردم صحرانشين سياه پوشند ...**
دنادرجانن داخبرې لاپای ته نه وې رسيدلي چي دشوروي سرتيرولـه منځه رينسکي سررا اوچت کړاو په وچو لمروهلو شونډويي داخبره راغبرګه شوه :
ـ دتاريخ ماسترزه يم اوتاريخي خبرې تاسي کوئ ، له ماپوښتنه وکړئ زه افغانان ( پښتانه ) ترتاسوتولوښه پيژنم،دوی بل ډول خلک دي ،څوځلي يي په آسياکي پاچاهي کړې،لويی ارادې يي دافغانستان تردغواوچتو اوچتو آسمان څوکو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په غور و لولئ

غرونو هم اوچتې دي،خواوس افسوس چې زمانه بدله شوې ده ،اوس داخبرې له دوی سره نه ښايي ،اوس په نړۍ کې ترموږ )شورويانو ( ميړنی،باتوراواتل خلک نشته ، اوس لويي زموږ ده... وګوره داده دپښتنودغرورمانۍ مو دسترګو په رپ کې رانسکوره کړه،امين اوګلبدين هم افغانان ( پښتانه )وو،غوښتل يې چې امريکايان راولي ،څه يې وکړای شول؟اوڅه يې له وسه پوره شول ؟ د رينسکي ددغو خبرو له اوريدو سره سم ټولويوه اوبل ته سره وکتل،رينسکي په دغه غونډه کې ديوه زغره وال کندک سياسی مشرو،کرچکوف مخکې ترمخکې نادرجان ته ور پيژندلی و،ځکه يی د نادرجان په ځواب کې په ډيراحتياط سره دومره ويلي وو چې :
- ستا سې په لويۍ او هيلو باندې نه پوهيږم،تاسې خوواياست چې ګرده نړۍ به سوسيالستی شي ،خو چې پرته له توري او ټوپکه شي،دا به يې لويي وي،پښتانه يومتل لري چې وايې »:په زور کلي نه کيږي « ستاسې سوسياليزم هم بايد لکه پسرلي چې پرطبعيت باندې خپله لوړتيا او وړتيا غوړولي هغسې وي،نه داسې لکه د ژمي په شان،موږخوسوسياليزم داسې پيژنوداچې ته وايې دامين اوګلبدين دغرور مانۍ مودسترګو په رپ کې رانسکوره کړه،اول خو داسمه نه ده، ځکه تاسې وران پوه شوي ياست،بله داچې ګورئ پښتانه متل لري زه يې درته وايم هغه داچې، »داد پټي سردی، پټی وروسته سور ور دی » وبه ګورو چې خدای څه کوي ؟
د امين دنامه له اوريدو سره سم پتروفسکي هم دمخابرې غوړۍ له خپلوغوږو پريوه خوا کړه ، اوله نادرجانه يې وپوښتل :
- امين د سی آی ايې جاسوسی و؟ هغه د ګلبدين څه و ؟
نادرجان په موسکۍ خيره ورته وويل :
- په دغه اړه زه ډيرمعلومات نه لرم،خو دومره پوهيږم چې کوم شی چې په دغه باره کې تاسوته ويل شوي هغه رښتيا نه دي،امين اوګلبدين که څه هم پښتانه وو،خوزموږ په ټولنه کې دواړه بيل بيل کسان دي .
- موږ ته خو اوس هم ويل کيږي،چې افغانستان يې د امريکې په اډه اړاوه،که موږ نه وای راغلي افغانستان خو به د نړۍ په نقشه کې نه و ...
نادرجان ته ورته موسکی شواوله خند اسره يې ورته وويل :
- افغانان تراوسه هم ستاسې داخبره نه مني اونه پرې باوري دي،هغو په دغه برخه کې له تاسوپوښتي او وايي چې که زموږ هيواد ددنيا په نقشه کې نه وای نو چيرې به وای ؟
د رينسکي خولې بيا بخار وکړ،ځکه يې وويل :
- په دې خبره کې دشک ځای نشته،که هغوی دسيا ګوډاګيان نه وای،موږ به دلته نه راتلو،پرون دغونډ قوماندان هم داخبره وکړه،هغه څه چې قوماندانان وايي هغه رښتيا دي ، هغه زموږ لپاره مهم دي،هرڅوک چې زموږ په مقابل کې مقاومت کوي ،هغه دامين اوګلبدين پلويان دي،هغوی ته له امريکې وسلې راځي،موږ بايد هغوی له منځه يوسو لکه چې يومووړل ...
نورچا ددغې خبرې په مقابل کې څه ونه ويل،دغه لړۍ،همدلته پای ته ورسيده اوپوځي کتار روان و داسې لکه افسانوي ښامارچې سراو برېې له خدايه پرته بل چا ته نه ښکاريده ...
په بله ورځ دکتاريوسردسالارو پرچينه باندې ودريد،دغه ښکلی چينه اودمه ځای دی ،هغه مساپراو موټرونه چې دغزني ،کندهار،هرات اونورولويديزو ولايتونو پرلور ځي او راځي،هغوی به دلته خامخا دمه کوي ، يخې اوبه ،خوږې ميوې ، اوترټولو مهم ديوې لنډې آرامۍ احساس به همدلته سټرومساپروته ورپه برخه کيده اوکيږی... اوس دکتار سر همدلته را رسيدلی واوهمدلته پروته و... له لرې لرې دنريو ګوليو ګوزارونه هم پرې کيدل، له بيګا راهيسې دوه تنه دهغو له امله ټپيان شوي هم وو، همدغه خبرونه کښته اوپورته کيدل چې يونا څاپه دټوپونوخولې ورخلاصې شوې،هلته وړاندې په پراخو کروندواود کليو پراوږدو او لنډوباندې تورګرد اوخړ تورتم را خورشو،په يوڅو شيبو کې له دواړو خواوو يو پربل باندې درنې ډزې پيل شوې، هو، درنې اومرګونې ډزې ... له دواړو خواوو يو پرباندې زړه سوی نه و، ورونو ورونه ويشتل اوخپلو خپل،ځکه چې دوی يې يوه اوبل ته ورمخامخ کړي وو، کتار ته هم زيان ورسيد خو بسمچيو ته چې رينسکی د امين او ګلبدين پلويان بلل نه يوازې د سرتاوان بلکی کلي او کورنه هم يې په کې ړنګ و بنګ شول ...
دخړ تورتم لمنه دکتا راوړدې لمنې ته وار په وار رانژدي کيده ، په پيل کې خو د کتار بولندويانو داسې فکرکاوه چې ګواکی يرغل يوازې له لويديز لورې د دوی پرلور را نژدې کيدونکی دی ، خو وروسته روښانه شوه چې دا بريد له يوې خوا نه و، بلکی دکتار پرمنځ او پای هم درانه ګوزاونه په يوه وخت کې پيل شوي وو .
په هغو شپو ورځوکې خلک د شورويانو پرضد په ډيروعصري وسلو نه وو سمبال شوي ، په هغه ورځ هم پردغه لوی کتار باندې يرغل دخالی لاسو يرغل و،خلک يوازې دجهاد له نامه سره جنګ ته راغلي وو، خلکو او سرتيرو ته برابر تاوانونه ورسيدل ، په کتار کې زيات موټرونه او ټانکونه وسول،دوی د ټانکونو دسوځولو لپاره ساده وسله جوړه کړې وه ، دغه وسله نه د امريکې وه، نه د چين اونه هم دعربی هيوادو،دغه وسله يو ساده بوتل و چې په هغه کې به يی پترول اچول، د هغه پرسرباندې يې داسې يوه ماده ايښوده چې کله به په ټانک او يا بله وسيله ولګيده،هغه به لمبه کوله او پټرولو به اور واخيست ځکه يې په دغو بوتلو باندې زيات ټانکونه وسول، خلکوبه ويل چې داوسله


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ماما شريف چې لوی امينی خلقي افسرو اونوی د روسانو له ښکيله را تښتيدلی و جنګياليو ته ورښودلې وه ... داکه څه هم دومره مهمه وسيله نه وه، خو يوڅه چې له بوتل سره به خلکو ملګري کړی و، هغه غږ و چې هغه له زړو راووت او دباور فرښتو ترزړونو پورې په خپل شان اوپرتم سره رساوه چې **الله اکبر .. الله اکبر ... الله اکبر ...**

****

تور ګردونه نوي دمځکې له مخې پورته شوی وو،پرکتار باندې هم ګوزارونه کم شوي وو، ټولو ته ښکاريدل چې شاوخوا کليو ته زيات زيانونه ورسيدل،په دغه لنډه ګنډه جګړه کې پرکليو باندې درنې درنې ګولۍ په خورا بې رحمۍ سره لکه درنې ټکې واوريدې،ماشومانو،ښځواوسپين ږيروته ترهرچا زيات تاوانونه ورسيدل، ځکه چې هغوی خالي لاس وو، نه جنګيدل اونه هم دجنګيدو پرچل پوهيدل، زيات شميرترخاورلاندې شول اوهم په ګوليو سوري سوري، په کورونو کې زخمي لويدلي پراته وو، درنه جګړه وه، او درانه غمونه يې په هغه ورځ په زياترو کليوکې بې اسرې کليوالو ته پاتې شول ...

لاهم يوڅو شيبې دحرکت لپاره پاتې وې، دنادرجان اوکرچکوف دوی شوبلې ته کوم زيان نه و رسيدلی، دهغو شوبلې دسړک کيڼې خوا ته څو( سنګر) نيولی واو پرلرې لرې سيمواو کليو باندې يې درنې او قهرجنې ګولۍ اورولې او اورولې ...

په يوڅو شيبو کې قومانده ورکړه شوه چې بايد دحرکت لپاره ځانونه تيارکړي،په همدغه تياري کې وو چې هلته يې په شنه کرونده کې پريوه سپين ږيري باندې سترګې ولګيدې چې دکتار پرخوا لکه ليونی را روان واوله ډيردرانه قهرسره يې دا ترخوله راوزی :

- چيرې ځی ؟ زما کور خومو را وران کړ... زما ماشومان خومو تر ديوالو لاندې کړل ، والله که رانه ولاړشئ ، هو ، په والله ... په والله او په ...

ګرد يوځيان هغه ته ځيرشول ، ټول پام يې دهغه پرلورشو،شکيدلی ګريوان،لوڅې پښې ، ژړغوني سترګې ، لويدلی آواز،اوسپنيزه چا رچاخه په لاس د شوبلې درانه قد اندام ته ودريد او پرهغې درانه ګوزارونه پيل کړل او له هر ګوزار سره يې بياهم هغه يوغږ ملګری و، الله اکبر...ترسترګو يې تپه تياره وه،دشوبلې ټولې ډلی دسپين ږيرې دلته ليونتو ب ته کتل او ټول ورته په غاښ شوی ول،کومې خبرې چې دده له خولې راوتې،هغه ټولې نادرجان روسانو ته په هم هغې مزې چې دده له خولې راو تلې يوه يوه ژباړلې ... که څه هم دده هرګوزار پرشوبلې باندې د فيل او ماشې خبره وه ، خو کرچکوف بيا اريان دريان ورته کتل،هغه لکه رينسکی اوپتروفسکي غوندې د سپين ږيرې )ليوني افغان ) دغه حالت ته نه خندل اونه يې هسې په سرسري توګه ورته کتل،دچارچاخې په تيرو ښاخونه يې د شوبلې ټولې هنداري سره دړې وړې کړې، دلته همدغه معرکه روانه وه چې دحرکت قومانده ورکړه شوه ... دنادرجان دوی شوبله هم وغريده او پرحرکت شوه، دوی ټولو فکر کاوه چې خبره دتګ تګ شوه سپين ږيري به هم ځان يوې خواته کړی وي ، خو داسې نه وه ، هغه د شوبلې تر توپ خپله غيږه راتاوکړې وه ، داسې چې هرچا ورته کتل ورته حيرانيده ، په همدغه وخت کې يې هم لا همدغه نارې ترخولې راوتې :

- چيرې ځئ ، زما کورمو را وران کا ، زما ماشومان خو مو ترديوالو لاندې کړل ، والله که رانه ولاړشئ ، هو والله ...

نادرجان ځوځوځلې ده ته دده په خپله ژبه ويلي ووچې له شوبلې راکوزشي، خودهغه دخبرو پروايې هم نه وه ساتلې،آن لاپه ځواب کې يې داخبره هم ورته کړې وه :

- چپ شه سپيه، که رښتياهم دومره نارينه يې يوځل خو له دې قبره (شوبلې ) راووځه ، هو، يوازې يوځل ...

د نادرجان جان لويه ځوانه داوه چې هغه يې دشوبلې د ننه شورويانو ته دليوني په نامه ور پيژندلی و،همداوجه وه،چې تراوسه يې په ګولۍ نه ويشت،خو تردوی وروسته روسي بيرديم والاوو،هغه په همدغه حا لت کې ليدلی و، هغوی د نا درجان دوی دشوبلې له سره د دشکې، په پرله پسې، اورسره کښته را والوزاوه اولکه ښکارشوی مرغه د شوبلې څنګ ته لکه ديوال پرمځکه راپريوت ،خولايې هم له خولې همدا راوتل :

- زما ماشومان خوموترديوالولاندې کړل، والله که رانه ولاړشئ ... هو والله ...

هغه ليونی ساده او پاک زړی بزګر، پرځمکه راو لويد،په وينوکې ليت پيت و، هم هلته يې د سړک پرسريوه څنګ ته د ژوند وروستۍ سلګۍ هم له همدغه غږ ، هو والله ... سره مل وې ...

اوکتاردلويديزپه لورلکه ښامار روان و، پرهغه لورچې هيچا ته يې هم پته نه لګيده ... د نادرجان اوکرچکوف لپاره بيا يوه بله دحيرانيتا وړ خبره پيداشوه، په همدغه سوچ کې وو چې رينسکي د نادرجان سترګو ته ګوته ونيوله،اوپه تانه يې غږکې يې ورته وويل :

- ستاسې خلک خورا وروسته پاتې دي، وحشي دي،ځانته مرګ په لوی لاس وربولي، موږ خپله لاره وهو،دغه ليونی ته ګوره، دی نه پوهيږي چې موږ نن په دنيا کې څوک يو ؟ دريغه چې موږ دومره لوی ځواک تراوسه پورې دغوخلکو ته چانه يو ورپيژندلي،هو،داهم دامين کارو، دايوه لويه تيروتنه ده،داسې چې زموږ دځواک پرځای اوس هم دوی په خپلو تيروکې په خپلوتيرو پرتموکې ډوب دي ...خوهغه تيرې خبرې دوی اوس په خوب ويني ... داسې



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولۍ

باید نه وي ، دوی ته باید وویل شي چې نن سبا موږ څو ک یو،دوی باید نور دخپلو تیروهرڅه چې وو خوبونه ونه ویني ، ببرک دهمدغه ټکي په خاطرموږ راوستی اوکه نه ...
نادرجان به ددې خبرې په وړاندې څه ځواب ویلی وای؟یوازې یې یوواکمن،یوه څیره شاه شجاع سترګو ته کلک ودرید،هغه په خپل تاریخ کې دغه واکمن دیوه منفی کرکتر په توګه پیژانده او ورته ویل شوي وو چې هغه دانګریز نوکرو،خو دې ټکی ته یې پام نه و،چې که د شاه شجاع پرځای هرڅوک وای،له هغه خامخا شاه شجاع جوړیده... د رینسکي دغې خبرې چې ګواکي ستاسې خلک وحشي دي، دی هم ډیرخواشینی کړ،ځکه یې زموږ دخلکو په وینا حالت ورته بدل شو،دهغه خبره یې بی ځوابه پرینښوده ځکه خویې په خورا نرمه خو دردونکي ژبه دده خبره ورغبرګه کړه :
ـ هو،ته رښتیا وایې،زموږ خلک وحشي دي،داد وحشت پړاو، پرهرچا راځي، هغه مهال چې نازي پوځونه د شوروي دیوشمیرښارونو شاوخواته راورسیدل، هغوی هم داسې وحشیان شوې چې انسان ورته اهمیت نه درلود،اونه یې سترګې له ځان پرته پربل چا ډکیدې،پرهغه مهال به نازیانو تاسې ته هم کټ مټ خبرې کولې :
**»روسان په انسانیت نه پوهیږي «...** داسې حالات کله کله پرهرچا راځي ، پرهرملت باندې راځي، اواوس دادی پرموږ هم راغلي دي...لکه چې تاهم دا اوس ووې ...
ددغې خبرې په اوریدو سره په رښتیا هم د کرچکوف او رینسکي غوږونو انګازې وکړې، کرچکوف سپین زږې روسي ښکاریده،خو رینسکي بیا روان سیاست په زغرده چلاوه ، دده په وینا په تاریخ هم ښه پوهیده،ځکه یې په موسکانه څیره نادرجان ته وکتل، اوپوښتنه یې ترې وکړه :
ـ ته خو به پښتون نه یې ؟
ـ یم،ځکه زما وطن دپښتنو دوطن په نامه یادیږي،په انفرادي توګه موږ ځانوته افغانان هم وایو،ددې وطن هراوسیدونکي ځان د افغان په نامه یادوي ، په دې توګه خوزه پښتون یم،ستا سې په نظر پښتون یاني څوک ؟
ـ زموږ په نظر پښتانه یاني شوروي ضد او فاشست، آیا ته شوروي ضد او فاشست یې ؟
ـ شوروي ضد یاني څه ؟
ـ هرڅه چې فکرکوئ،دوی فاشستان دي،موږ ته دوی اوامریکایان توپیرنه لري،ځکه دوی ګرده د امپریالزم له خوا دې ته ګمارل شوي چې په افغانستان کې شوروي ضد نظام رامنځ ته کړي... دوی امین غواړي اودوی ګلبدین مني ...
ددغې خبرې په اوریدو سره دچا خبره د نادرجان له ماغزو شین دود پورته شو، ځان یې کنترول کړ، ځکه یې داخبره له ځان سره زمزمه کړه چې :
ـ ستاسې ګناه نه ده ، موږ خپله احمقان یو، ځکه داخبرې هم ستاسې نه دي، موږ خدای داسې بدمرغه کړي یو چې زموږ یوشمیرلاسپوڅي داشان خبرې ستا سې په خولو کې درکوي ...په موږ کې خوستاسې نوکران لږ نه دي، که هغوی چې ستاسې د اوږو بازان دي ، داخبرې نه کولی، ستاسې یې له دغو خبرو سره څه وو؟ په موږ کې متل دی چې څیری رښتیا ویلي چې که دتبرلاستي زما له خپل ښاخه نه وای ، زماملا به کله هم چا نه وای راماته کړې ...
دویمه ورځ وه چې درندې شوبلې، دمارپیچې لارې اوږده تنابونه دغزني پرلورلنډول ، ماسپښین لوړو،چې کتار دغزني د ښار په ختیزه څنډه کې ودرید، دکتار یوې اوبلي خوا ته امنیت ونیول شو، په دې خاطر چې کتار ته له نژدې سمسور او ښکلي کلی څخه دزیات خطر خبرونه را رسیدلی وو، داکلی له پخوا د سمسوروباغو،پاکو اوبواو یوې بلې خواته دنریو نریو ویالو له امله نامتوو،اوس یې هم په تنګو تنګو ویالو کې پاکې اورنۍ اوبه یوې اوبلې خواته رواني وې ،هلته دکلي پربره خوا دبت شکن محمود غزنوي دمزار ګومبزه له ورایه اوچته اودنګه ښکاریده چې تراوسه هم ترې دیوه پیاوړی پرتم احساس کیده ...
دروسانو له ډلي یوهم رینسکی وچې دکتار په منځ کې یې یوې اوبلې خواته بیړنۍ ګزمه کوله،هغه بدغونی روسی و،ده دافغانستان دخلکو په باب یې داسې فکرکاوه،چې ده فکرکاوه، داهم دشوروي اوچکوسلواکیا په شان عادي خلک دي... په خپل بې ځایه غروربانديې خورا زیات نازیده، کله به چې نورو روسي پوځیانود رینسکی جدیت اوکلانکاري اواصولیت لیده،نوپه خپلو کې به یې یوه اوبل ته د ټوکو په ترڅ کې ویل :
ـ مه یې کوئ ، سیاسي پوهه یې لوړه تللې ده ...
هغه په دغه ورځ دچا خبره کلانکاري وکړه، دکلي منځ ته یې ځان ورساوه... ماشومان له یوې اوبلط خواپړې را کواړه شول،له هغوی سره یې په ګونګۍ ژبه په اشارو خبرې اومسخرې کولې،له یوه ماشوم سره یې دهغه په لاس کې دغزني منې ولیدې،دی لاسم ورته څیرشوی نه وچې هغه ماشوم ورته ونیولې،یوه یې له هغو واخیسته، نورو سرتیرو فکرکاوه چې رینسکی له ماشومانو سره په کونګو خبرو بوخت دی،همداوه چې هرڅوک په یوه ګوښه کې سره وغزیدل، دغه سمسورکلی روضه نومیږي،چې دغزنی کندهاردلویې لارې پرسر پروت دی،هره ورځ به چې پردغه لاره باندې پوځي کتارونه تلل، ددغه کلي خلک اوس ترزیاتې کچې د روسانو په ځانګړو باندې بلد شوي وو،اوس ددغه ځای کلیوال ان چې ماشومان هم د دوی پر کمزور ټکو،غوښتنو اواړتیاوو باندې ښه پوهیدل،رینسکی لامنه نه وه خوړلې چې یوه ماشوم دتومانچې دوې ګولي ورته راوایستې په اشارو یې هغه په دې پوه کړ چې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ګواکي دی غواړي ګولۍ د ده په تمانچه کې وډزوی او نښه پرې وولي ، داچې رینسکي دده لورینه لیدلې وه اوهغه یې په سترګوکې وه،له بلې خوا ډاډه و چې شاوخوا یې نور پوځیان شته،خپله تومانچه یې په ډیرجرآت سره ورکړه ، ما شومانو دی په ګونګی خبروکې سره بوخت کړ، پرده یې خپله دایره راتنګه کړه،اودده پرشاوخوایې شورماشوررراجوړکړ،هغه ماشوم چې تومانچه یې له ده اخیستې وه ، ځان په همدغه شورماشورکې له دغه ځایه دباد وزرکړاوووت ...په یوڅوشیبوکې دسترګواوبڼوترمنځ شو، نه نښه وه اونه تومانچه، د رینسکي تومانچه یې ترې په هوا کړه ، رینسکي یوې او بلې خوا ته منډې رامنډې وکړې،خودما شوم لوری او لودن یې ونه موند ،نورو ماشومانو هم ځانونه ناګارکړل چې ګواکي موږ نه پوهیږو،تا ولي داکاروکړ ...او د رینسکي تومانچه یې په همدغه شان ترې یووړه ...
تیرماسپښین وچې کتارته بیا دتګ قومانده ورکړه شوه،رینسکي هم له ګزمې سپیره غوړونه بیرته خپلې شوبلې ته راستون شو، خواشیني اواندیښمن ښکاریده،او له ماشومانو سره یې خپله کیسه هم له چا سره شریکه نه کړه..کتارحرکت وکړ،لاهم له دغه سمسوره کلي پرلویدیز لورروان وهغه ماشومان چې پرینسکي پسې له شا را روان وو، کله چې دی پرشوبله باندې وخوت اوشوبلي هم حرکت وکړ، هغوی اوس ټول دسړک پرڅنډه پریوه لیکه کې ولاړوو، په خندا خندا کې یې ده ته دتانه په چل لاسونه ښورول او دده پرسادګۍ اوکه بې عقلۍ یې په کړیس کړیس پرده پسې خندل اوخندل !! ... ؟

پاتې لري...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ